Fachhochschule Nordwestschweiz
Pädagogische Hochschule

# ESKON *Sprache*

## **E**rfassung **s**chulischer **Ko**mpetenzen **N**euzugezogener

## PASCHTU

Aufgabenset 7 bis 9 Jahre Schulerfahrung

© Pädagogische Hochschule FHNW 2022

**دنده**

١
متن ولولی او پوشتونوته ځواب ورکری ٠




**چپس**
چپس د کچالانو وړیته شویته شوی تیکلیوته وايې ٠ او دا د١٨
مې پیرې د نامتو اختراعو څخه شمېرل کیږی ٠ دا چه د چپسو په
راویستلو اوپلورلو چا لاس پوری کړه په دې هکله ګڼ شمیر
کیسې شتون لرې ٠ او دا نږدی نا شونې ده چې د دغو کیسو
رشتیا او دروغ سپین کرو ٠ تر تولو ز یاته مشهوره کیسه د
جورج کروم نومی اشپز په هکله ده ٠ښاغلی کروم د کال ١٨٥٣
د اګست په ٢۶ مه نیته د یو نا خوش پیرودونکی دخوشحالولو
هڅه وکره ٠ هغه د کچالو نرې تیکلی غوځ کړل بیایې وړیته
کړل اومالګه یې پرې وشیندله ٠ چې په پایله کې د پیرودونکی نا
خوښی په خوشی‌بدله شوه ٠دا کیسه کېدی شی یو څه حقیقت
ولری ٠خو ځرګنده ده چه نوموړی پیری کی نورو اشپزانو هم داراز مفکورې درلودلې ٠ یواځې په امریکا کې چپسو ته وړته
توکې د وخت یو ځو داخلی پخلی په کتابونوکی ذکر شوې او په نورو شکلونو کی یې په برتانیا کی پرمختک موندلی و ٠
په پلورنځیوکې د چپسو پلور په لومری ځل د ١٨٩٠په لسیزه کې پیل شو خو د چپسو تولید او پلورل کې رښتینی زیاتوالی د
١٩٢٠ لسیزې په پای کی د وریتونکې ماشین راوتلو ځخه وروسته رامنځته شو کله چې نوموړې ماشین د چپسو پخلی کی تر
ډیره اندازه اسانتیا راوسته ٠ ورپسی لسیزه کې سربیره پر نوروبدلونونو د چپسو پاکتونو کې هم بدلون منځته راغی تر ځو
چپس په امریکا کې لرې پرتو سیموته وویشل شې ٠ خو داروپا په پلوړنځیو کې د چپسو پراختیا تر١٩٥٠ لسیزه پورې
وځندیده ٠

لیکونکې ولې دا متن لیکلی دی ؟
☐ لوستونکې د چپسو تاریخ څخه خبرولو لپاره ٠
☐ د یوې پزره پوړې کیسېله لارې د لوستونکو ساعت تېرولو لپاره ٠
☐ لوستونکو ته د چپسو پخولو چل ښودلو لپاره ٠

آیا دچپسو اختراع کونکې مالوم دی ؟
☐هو دا جورج کروم و ٠
☐ نه ګن شمېر کسان امکاني شتون لرې ٠
☐ نه خو دا مالومه ده چې کوم ځاې کې اختراع شو ٠

موږ اتکلي پوهیږو چی د کومي ز ماني څخه چپس خوړل کېږې ٠
☐ سمه
☐ غلط

اروپا په نږې کې لومړې سیمه وه چیرې چې چپس وپلوړل شول ٠
☐ سمه
☐ غلط

په ١٩ مه پیرې کې دچپسو د زیات خوراک د یو څخه دېر ل شتون لرې ٠
☐ سمه
☐ غلط



© PH FHNW

۲ لاندني متن ولولي او څلور د هوا نمودارچې د څلورو مختلفو ښارونو په هکله دي وګورې ۰او بیا ووایې چې دا متن په څه هکله لیکل شوې دې ۰

**د تودوخې درجه او ورېځ**

د نړې په بعضی مناطقو کې په اورې ډېر ورشت کېژی او په بعضی نورې کې نکېژې ۰ په بعضې سېمو کې د تودوخې درجه په تول کال کې یوشان وې او په یو شمېر نورې کې ډېر متفاوت ۰ د مثال په توګه سوېس ۰ څلور شودل شوې ښارونه په مختلفو قارو په نړې کې موقعیت لرې او د متفاوتو هوا څخه برخوردار دې ۰ د هانوی ښار په ویتنام کی دی ۰تونس د تونیسیا پایتخت ده او په مد یترانه خلیج کې واقع شوې دې ۰ دوبلین په ایرلند کی ده او یاکوتسک د روسیه په مرکزې سیمو کی موقعیت لرې۰













د اوبه او هوا نموداړد ورېځ او د تودو د نمودار څخه تشکیل شوې دې ۰ورېځ په کښ سمت کې د میلیمتړ په ذریعه او د تودو دړجه په سانتیګراد باندی شودل شوی دې ۰دا نموداړ د ورېځو او تودو اندازه په متوسط دول له جنوړی څخه تړ دسمبر پوړی په ګوته کوې



© PH FHNW

۳ پوشتني داوبه او هوا د نمودار په هکله د ۲ -۳ دندی ځخه ۰

الف – د متن او نمودار په نظر کی نیولو سره رشتيني ښارونه په ګوته کړي ۰

| | هانوی | تونیس | دوبلین | یاکوتسک |
|---|---|---|---|---|
| په تول کال کی د هوا دتودو درجه د ۵ تر ۱۵ درجه سانتیګرادپورې تغییرکوی۰ | | | | |
| دا ښار په ورې کي لګ باران لرې او له می څخه تر اکتوبر پورې ۲۰ دسانتیګراد او یا دیر ۰ | | | | |
| د و ریځو وریدل د اکتوبر څخه تر اپریل پورې د واورې په شکل وي ۰ | | | | |

ب – د یا کو تسک د ښار نمودار وګورې او درست بیانات په ګوته کړي ۰

| | |
|---|---|
| ☐ | صفر درجه د سانتیګراد او ۲۰ میلیمتر وریځ اتکل کیژي ۰ |
| ☐ | منفی ۱۰ درجه د سانتیګراد او۵۰ میلیمتر وریځ اتکل |
| ☐ | نژدی تیت له ۱۰ درجه سانتیګراداو ۶۰ میلیمتر وریځ |
| ☐ | نژدې لور منفی ۳۰ درجه او ۱۵ ملیمتر وریځ |

ث – د اوبو او هوا د نمودار له مخی په ۲ دنده کی په کومو ښارونو کي د وریځو او تودو درجه دیر متفاوته دي ۰ رشتيني ښارونه په ګوته کړي ۰

د وریځو اندازه متفاوته ده په ۰۰۰

| | |
|---|---|
| تونیس | هانوی |
| یاکوتسک | دوبلین |

د تودو درجه متفاوته دی په ۰۰۰

| | |
|---|---|
| تونیس | هانوی |
| یاکوسک | دوبلین |



© PH FHNW

۴
دواړه لیکونه ولوله او بیا په خپله ژبه ووایه چه د څه په هکله لیکل شوي دی.

لومری لیک

د ښوونځی ماشومانوته د شیدو پر ځای اوبه ورکری ۰

په شوونځیو کی د غواشیدی څښل د طبیعت سره سمون نلری ۰ انسان دځمکی پر سر یواځینی موجود دی چی د یو بل ذات شیدي څښي ۰
د اوپسالا پوهنتون له لوري تر سره شوي یوه پراخه څیرنه چی دتیری چهارشني په ورځ په ورڅپانه کي خپره شوي ده د غوا شید و په هکله زمو ږ له دېرې مودي راهیسي منل شوي ګومانونه په بله مخه اروی ۰ څیرونکو موندلي چه دشیدو دیر څښاک د لند ژوند او د هدوکوماتېدلو سره تراو لري ۰
د غوا شېدې نه د طبیعت سره سمون خوری او نه دخلکو ږوغتیا او چاپیریال لپاره ګته لرې ۰نو ځکه اوس وخت ږاړسیدلې چی دغوا شیدې له شوونځیو څخه لرې کرو او د دی پر ځای ماشومانوته د څښاک نورخویونه ورزده کرو چی د چا پیریال لپاره هم ګتور وې , یانی تنده دې په اوبو باندې ماته کرې

اربرت مولر
د سابه خوری نومی تولني استاذي

دوهم لیک

د ښوونځي خوږو سره شیدو ته اړتیا ده

آندرس سوپنسون ته ځواب
آندرس سوپنسون نه غواری چی ماشومان دې په ښوونځیو کې شیدې وڅښی ۰موږ او ملګری ملتونه بر عکس فکر لرو او هغه دا چې تول ماشومان په شوونځې کی په وریا توګه د شیدو څښلو حق لرې ۰
په شیدو کی د۲۲د جملی څخه ۱۸ هغه خوراکی توکې شتون لرې چې موږ هره ورځ ورته ارتیا لرو او د شوونځیو په ساعتونوکی ماشومانوته د سم خوړاک ږسېدو داد وړکوې په کومو هیوادونو کې چې د خورو کمښت شتون لری هلته دښوونځی له لوری شیدې د زیات شمیر ماشومانو لپاره د خوراکی توکو یوه حیاتی سرچینه ثابیتېدې شي ۰ سر بیره پر دی تازه څیرنو جوته کرې چې که چېرې کوچینیانوته دخوږو په څنګ کې شېدې ورنکړل شي نو یواځې دښوونځې د غرمې ناری په کافی اندازه خوراکی توکې نه لرې
د کریستیانستاد پوهنتون د خوراکی توکو څیرونکې شاغلی اولاروساند د سویدن دیو ښار درې ښوونځیو کی سیرنه ترسره کره ۰ کوم چی ماشومانوته د غرمی ډوډې وړکول کېدې په دغو ښوونځیو کې د غرمې خواره یو دول وو ۰ خو په یوه ښوونځی کی شېدې هم ورکول کیدل ۰پایلو په داګه کره چی د خوارو په خواکی شېدې څښل ارېنې دې په تېره هغو ماشومانوته چی کم خوړاک کوې او یا دغرمې تفریح په وخت کافی اندازه خوړاک کولو تهوخت نلرې شېدو ته ارتیا ده تر څو ماشومان سر بیره پر نورو په کافی اندازه کلسیم ویتامین بی ۱۲ او مګنیزیم بدن ته جذب کرې له دې لامله شیدې په ښوونځې کی یو څرګند ځاې لرې ۰

سوزانه فیستر

د بزګړو د اتحادیه استازې


© PH FHNW

۵

د ۴ مې دندې په نظر نیولو سره درستې ځرګندونې نشانې کړې ۰

۱ - ولې میرمن فیستر انګیرې چې شېدې د ښوونځي ماشومانو لپاره اړینې دي ؟

☐ماشومان د شېدو له کبله په ښوونځي کې دېرزیات خوړاک کوې ۰ الف

☐ د شېدو په وسېله دانسان عمر اوږدېږي ۰ب

☐ په شېدو کې ګن شمېر خوړاکي توکي شتون لري ۰ث

۲ - ولې شا غلی مایر فکر کوي چې د ښوونځي ماشومان دې د شېدو پر ځای اوبه وڅښي ؟

☐ اوبه دشېدو په پرتله ارزانه دي ۰ الف

☐ اوبه دچاپیرېال لپاره ګتورې دي ۰ ب

☐ اوبه په غوړه توګه تنده ماتوي ۰ ث

۳ - د متن له مخې ځېرنو کومې پایلې را برسېره کوې ؟

☐ دا چی شېدې ځښل دواره منفي او مثبتې اغیزې لرې ۰ الف

☐ دا چې د ښوونځې خواړه د شېدو پرته هم په ز باته کچه خوړاکي توکي لرې ۰ ب

☐ د شېدو ز پات مصرف هد وکې پیاورې کوي ۰ ث

۴ - ولې میرمن فېسټر دا لېک لېکلی ده ؟

☐ هغه غواړې چې سپینه کړې چې شا غلي مولر ولې په غلط دي ۰الف

☐ هغه غوارې چې روشانه کړې چې اوبه ولې د چاپیرېال لپاره ګتورې دي ۰ ب

☐ هغه نغواړې چې ماشومان دې په ښوونځي کې کم خوړاک وکړې ۰ث

۵ - شا غلي مولر ادعا کوې چې د زېاتو شېدو څښل له امله د انسان د ږوند موده لندېږي ۰

☐ سمه

☐ غلط

۶ - شاغلي مولر او مېرمن فیستر پوهیده چې په دواړو لېکونو کې د څېړنې پاېلې یو شان دي ۰

☐ سمه

☐ غلط

۷ - داسي بړېشې چې څېړونکې د شېدو اغېزو په هکله هم نظره دي ۰

☐ سمه

☐ غلط



© PH FHNW

۶

د دواړو متنونو څخه کوم یوه ستاسې لپاره تر ټولو ډېر د منلو وړ و ؟ آیا وېلې شې چې ولې داسې فکر کوې ؟



© PH FHNW

۷

مثال وګورﻩ او سوالونه ته ځواب ورکړﻩ ۰

نیکو ۱۵ کلن دئ او په ۹ تولګي کي سبق وايي ۰ د چهار شنبي په ورځ په يوه رستوړانت کي دګارګر په صفت کار کوي ۰په خپل ازاد وخت کي دفوتبال لوبه کوي داهم دهغي د يوې وني تقسيم اوقات ۰

| | جمعه | پنجشنبي | چها ر شنبي | سه شنبی | دوشنبی |
|---|---|---|---|---|---|
| ۷۰۴۵-۹۰ ۱۵ | ف س ۱ | ف س ۲ | م ا ت | ف س ۱ | ف س ۲ |
| ۹۰۱۵-۹۰۴۵ | تفريح | تفريح | تفريح | تفريح | تفريح |
| ۹۰۴۵-۱۱۰۱۵ | ګ ح س | ن ا ت | ن ا ت | ګ ح و | م ا ت |
| ۱۱۰۱۵ -۱۲ ۰۰ | س پ ل | س پ ل | س پ ل | ګ ح و | م ا ت |
| ۱۲ ۰۰۰-۱۳۰۳۰ | د غرمي تفريح | د غرمي تفريح | دغرمي تفريح | د غرمي تفريح | د غرمي تفريح |
| ۱۳ ۰۳۰ -۱۵۰۰ | س پ و | س پ ل | ف س ۱ | ګ ح س | ف س ۱ |
| ۱۵۰۰-۱۵۰ ۳۰ | تفريح | تفريح | تفريح | تفريح | تفريح |
| ۱۵۰۳۰ -۱۷۰۰۰ | م و س | م ا ت | | س پ و | س پ ل |
| ۱۷۰۰۰-۱۸۰۰۰ | | | کار | | |
| ۱۸۰۰۰ -۱۹۰۰۰ | | | کار | | |
| ۱۹۰۰۰ -۲۰۰۰۰ | | فوتبال | کار | | فوتبال |
| ۲۰۰۰۰ -۲۱۰۰۰ | | فوتبال | کار | | فوتبال |
| ۲۱۰۰۰ -۲۲۰۰۰ | | | کار | | |

تشريح

| | |
|---|---|
| بحرني ژبه ۱ انګليسي | ف س ۱ |
| بحرني ژبه ۲ فرانسوی | ف س ۲ |
| جغرافيه | ګ ح و |
| تاريخ | ګ ح س |
| رياضی | م ا ت |
| موسيقي | م و س |
| طبيعي خيرني | ن ا ت |
| ژبه او ادبيات | س پ ل |
| ورزش | س پ و |

پوښتني

۱ - ځومرﻩ رياضي ساعتونه نيکو په يوه وني کي لري ؟

ځواب : ____________________

۲ - کوم مضمون نيکو يو ځل په وني کي لري ؟

ځواب : ____________________

۳ - کوم مضامين نيکو هيڅ وخت دغرمي دتفريح څخه مخکي نلري ؟

ځواب : ____________________



© PH FHNW

۸

یوه متن د دې په هکله چې ماشومانو دتاسو په کوړنې کې څه دول رفتارې قواعد لرې ولیکه ۰د مثال په توګه ایا ماشومان اجازه لرې هر وخت چې غواړې خپل خوب بستر ته لار شي ۰دغه سوالونو ته هم ځوابونه ورکړه ۰

الف - کوم رفتارې قوانین دتاسو په کوړنې کې د ماشومانو لپاره شتون لرې ؟

ب - کوم یو د هغې رفتارې قوانینو څخه تاته دمنلو وړ دې یا ندې او د څه لپاره ؟



© PH FHNW